مومن خان وردګ ۲۰۱۵/۱۰/۰۹

# ملا منصور پر وردګو د خپلو طالبانو له ظلمونو خبرې دی؟

حق غوښتل کیږي مګر مونږ خپل حق نوروته په وړیا ډول، حتی د خپلې بې عزتۍ به قیمت ورکوو. هم له خپل حقه تیر یو او همې بې عزته کیږي، د یو ملت په توګه له هغه حقوق څخه بې برخې یو چې هغه خدای (ج) راکړي دي د مثال په توګه ژوند کول د حیات حق.
خو نن دا حقه حقوق له مونږ نه اخیستل شوي او د طالب یا داعش او یانور ډلو پورې اړه پیداکوي. سره له دې چې ټول افغانستان بد امني ګواښوي او خلک په تنګ دي خو په ځینو ولایاتو کې وحشت آسمانو ته ختلی.
وردګ ولایت یادوم، پخوا وردګ ولایت د سولې، ادب او علم زانګو په نامه مشهور ولایت وو خو نن وردګ ولایت د عام ولس په کشتار ګاه بدل شوی دی. طالب خلک وژني او پر وینو یې ځان ساتي فاسد او اجیر نظام هم خلک وژني او پر وینو ځان ساتي.
د ورګ میشتو باعزته ولسونو څخه لاره ورکه ده چې په کومه ځان خلاص کړي، چاته شکایت وکړي له چا څخه امن او سوله وغواړي، وچاته ګریوان څېرې کړي چې د خدا په خاطر پر مونږ رحم وکړئ.
د وردګو ولایت د بند چک ولسوالۍ شریف خلک شپه او ورځ د غم په تغر ناست دي او خدای (ج) ته اوښکې تویوي، چَک ولسوالۍ کوزې خواته ټول د اردو او پولیسو په واک کې قرار لري، پورته بیا ټول وردګ له وسله والو طالبانو سره دی.
له چک بند څخه پورته تر (نور)خیلو سیمه پورې اردو ناست دي او له خپلو پوستو څخه پورته کلي او باندې په ټوپونو ولي او ملکي خلک وژني او همدا تیرو څلورو ورځو کې سخت بد حال وو یادو سیمو کې د ملي اردو ټوپونو او هاوانونو له لاسه چې د وسله والو طالبانو سیمې په نښه کوي پرته له کوم دقیق هدف نه چې زیان او تاوان یې ټول ملکي وګړوته اوړي.
ها خوا وسله والو طالبانو داسې ظلمونو او بې عدالتۍ پیل کړي دي چې حد نه لري، پخوا به ویل کیدل چې طالبان مشران لري او اداره کیږي مګر زه باور لرم چې طالبان مشر نه لري او بې اداري او بې نظمه بې دسپلینه خپل سري ځواکونه دي چې موخه یې په خلکو او ولسونو کې ډار او برم ګډول دي، هغه په دې مانا تر ۵۰ کلیو ډیرې سیمې د وسله والو طالبانو تر کنټرول لاندې دي مګر هرسیمه کې ځانته حاکم او واکمن طالب پرخلکو باداري کوي او هر څه یې چې زړه وغواړي هغه ترسره کوي.
تش په نوم والي او کمیسیونونه لري مګر مفید او ګټور نه دي، هر طالب واک لرونکی یا زور واکی خپلې خوښې وړ نظام او شرعیت پلی کوي هغه ظلمونه او نیوني، هغه وهل او ډبول، هغه جزیې او جریمې هغه فتواګانې او امرونه د چک ولسوالۍ پر خلکو دوی له ځان څخه تطبیقوي چې ساری یې حتی د حضرت عمر فاروق په دوران کې نه دی لیدل شوی.
آخر مونږ وردګ ولسونه ولې په دې حالت کې ساتل شوي یو؟ ولې څوک نشته چې له دې ظلمونو پوښتنه وکړي؟ ولې د اسلام او جهاد په نوم له مونږ نه مو روح او هوساینه ایستلې ده؟ زه هغه بې غیرته او بې شرفه جهادي مشرانو او هغه کسان چې ځان د دین او الله او رسول خادمین بولي مخاطب ګرځوم او پوښتنه ترې کوم چې (هې بې شرفه او بې عزته جاسوسانو): د قرآنکریم په ۳۰ سپارو کې یو داسې آیت را په ګوته کړئ چې الله (ج) د مومن او بیګناه مسلمان مرګ روا حکم کړی وي. د نبی کریم (ص) په احادیثو کې داسې یو حدیث را په ګوته کړئ چې ثابته کړي مجاهد بیګناه خلک وژلی شي او یا زورلی شي او یا ظلم پرې کولی شي. یا تجاوز او غیره و غیره ناوړه اعمال ....
زه باور لرم چې اسلام هیڅ کله داسې تشه نلري دا تاسې یاست چې د اسلام پر خلاف عمل کوئ او تاسې یاست چې د جهاد په نوم خپل ناموس او د هیواد خپلواکی مو پاکستان او نورو هیوادونو ته ډالۍ کړې او خپله مزې کوئ د الله لعنت دې وي پرتاسې او ستاسې په شان بې شرفه او بې هویته مشرانو باندې چې دولس غم نه پیژني او ظلم کوي او یا له ظالم څخه ملاتړ کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس وردګ ستر ویاړلی ولس د طالب وسله والو په بل شوي اور کي شپي او ورځي تیروي او د پوښتني او شکایت کولو مرجعه هم نشته خلک حیران دي چي څه وکړي او په کومه لاره لاړ شي چي له دي ظلمونو خلاص شي. مګر خلاصی یي نشته هر ورځ ظلمونه نوي کیږي او هره ورځ بي عدالتي ډیریږي عام بیچاره ولسونه دي چي قرباني ورکوي.
وسله وال طالبان په مختلفو نومونو له خلکو د (چک ولسوالئ له مختلفوکلیو) او شریفو اوسیدونوکو څخه قرباني اخلي او پرهغوی ظلمونه کوي د روهي په ویب پاڼه کي د یوه لیکوال او د یو ښونکي لیکنه چي ټول دردونه او حقایق وو ومي لوست سخت یي وردولم حتی ومي ژړل .او زه یي اړ باسلم چي دا لیکنه تأیید او خپل موقف هم ورسره شریک کړم او پرطالبانو او د هغوی پر مشرانو غږ وکوم چي (هی د دین او اسلام خادمینو): مونږ هم مسلمانان یو ولي مونږ باندي ظلمونه او تیري کوئ؟ ولي مونږ وژنئ؟ ولي مو پر مونږ دا دنیا ګی پر جهنم بدله کړي ده؟
الله ته وګورئ او قرآن ته نظر وکړئ ظلمونه بند کړئ او بیګناه وردګ ولسونه مه وژنئ او له بي عدالتیو لاس واخلئ.
زه پوره بي طرفه یم او د همدي ولسوالئ د کزار او سپدونکی یم خو پوره ۵ کاله کیږي چي ستاسي د ظلمونو له امله خپل کورته نشم تلی او دلته په کابل کي په یوه کرایي کوټه کي ژوند سباکوم، خدای(ج) تاسي ته قدرت درکړی چي ولس ته خدمت وکړئ مګر تاسي ولسونو ته خیانت او ظلم روا کوئ او له خلکو مو آرامه ژوند قتل کړی.
اي طالبانو اي د طالب مشرانو آیا خدای (ج) پیژنئ؟ د خدای په خاطر خپل ظالم او فاسد، اجیر او جاسوس ملګري له واک څخه لري کړئ چي پرخلکو ظلمونه کوي که چیري تاسي نوي پر ظلمونو ګمارلي. که چیري تاسي ظلم نه منئ. که چیري تاسي حق او عدالت ته ایمان لرئ. خو که چیري تاسي دوی ته د ظلمونو لاربښونې کړي دي الله مو له خپلو ظالمو اهدافو او ظالمو ملګرو سره تباه او برباد کړه.
مونږ نور حوصله نه لرو له مونږ نه هرڅه ختمه شوي ده، وژني مو ولیدلي، د خپلو مشرانو او عزیزانو پرجنازو خاوري ایري شولو چي تاسي په ناحقه شهیدان کړي وو. له خپل کور او ولس څخه جلاوطنئ ته اړ شولو ، در په دره خاوري پر سر مسافر او بي روزګاره ګرځو مګر لاهم ستاسي زړونه پر مونږ نه دي یخ او درګرده رانه وینې او غوښي شکوئ مکړئ دا سي خدای ته وګورئ ظلم بند کړئ.
په سلګونه محصلین مو ووژل، په لسګونه علمي کادرونه او مخور مو راته مړه کړل، په لسګونه روڼ آندي او پوهان مو راته شهیدان کړ، دغه راز لاهم دا لړئ دوام لري.
اوس هم محصلین، معلمین، مامور، اجیر، ډاکتر، انجنیر کسبه کار او حتی عادی خلکو پرتګ راتګ مو بندیزونه ورځ تربلي زیات کړي دي، او چاته اجازه نه ورکوئ چي خپل کورته خپل جومات او ولس ته لاړ شي آخر ولي؟ تاسي له دولت سره دښمني لرئ که له ولسونو سره؟
په تیر شوي لوی اختر کي مو یو ځانور وحشي او بي هویته تور مخی انسان د ملاقاسم په نو د عربانو به دره کي مامور کړی وو چي خلک ونیسي او زنداني یي کړي آخر ولي؟ په دي برخه کي زه د معلم صاحب ناوز نوري لیکنه تایید وړ بولم او والله حقایق یي لیکلي دي.
پخوا به شر او فساد شکوني او غلاګاني به یي کولي مګر نن د اسلامي امارت کرامو طالبانو دي مفاسود ته مخه کړي ده آخر ولي؟ تاسي خو له دین او شریعیت څخه خبر یاست او په رڼو سترګو ظلمونو ته مو مخه کړي ده؟
وردګ او په تیره بیا د چک ولسوالئ شریف ولسونه ستاسي په اُرونو کي کباب کباب دي، دي خواته د فاسد نظام نه پاملرنه او فساد او هاخوا ستاسي ظلمونه او بي عدالتئ دي چي حد نه وتلی دي.
زه د همدي لیکني له لاري د طالبانو پر سترو مشرانو او واک دارانو غږ کوم چي ظلمونه بند کړئ او د خپلو عسکرو له جنایاتو او خیانتونو خبرشئ که خبر نه یاست وردګ بیچاره ولسونه ژاړي او ټول وخت په ماتم او غمونو کي ډوب دي چي ستاسي ظالم او جاسوسه مشران یي عملي کوي او پري آخته دي.
وردګ مخور او مشرانو په وار وار غوښتل چي دي بد حالت ته د رسیده ګئ لپاره مؤثر اقدام وکړي مګر دوی پرتاسي ورحمیدل خو تاسي لانور هم ورته ظالمان شوئ، دا مکوئ چي ولسونه دولت ته مراجعه وکړئ او ستاسي د نابودی در خواست وکړي چي هغه وخت هرڅه به ستاسي په تاوان وي او تل به له وردګي مشرانو او ولسونو څخه ترخه تاریخي کارنامه به ذهن ته وسپارئ د ولسونو زور د خدای زور دی.
د ولس زور د خدای زور

پای

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ